## د شوکت میرضیایف رژیم د دعوت د حمل کوونکو پرورانډې ظلم ته دوام ورکوي

### خبر

د مې په ۲۸مه د ازبکستان د کورنیو چارو وزارت یوه اعلامیه خپره کړه، په یاده اعلامیه کې راغلي و چې دوی د ازبکستان د فرغانې په سیمه کې د اسلامي سیاسي حزب (حزب التحریر) څو غړي ونیول.

دغه ټول بندیان مخکې هم په حزب التحریر کې په غړیتوب لرلو او واقعي اسلام ته د دعوت کولو په جرم په اوږده بند محکوم شوي و. سره له دې چې دغو خلکو د ازبکستان په زندانونو کې ډېر وخت زندانیان وو، خو بیا یې هم په دغه سیمه کې اسلامي دعوت ته دوام ورکړ. دغه راز کله چې دوی نیول کېدل هم، د اسلام د دعوت پیام یې له ځانه سره لېږداوه.

د ازبکستان د کورنیو چارو وزارت په راپور کې راغلي و، چې د دغه بندیانو د نیولو لپاره د پلټنو په وخت کې د حزب التحریر اسلامي کتابونه او نور لیکلي اثار هم نیول شوي دي. دغو بندیانو ته باید جزایي قضیې واچول شي او تحقیقات ورڅخه وشي، چې دوی د اندیجان، فرغانې، نمانګن، تاشکند او سرخان دریا سیمو کې له نورو کومو کسانو سره اړیکې لري. که د ۲۰۱۹م اکتوبر ته وروګرځو نو وینو چې د یاد حزب غړي چې په هغه وخت کې بندیان شوي تر اوسه پورې په زندانونو کې شپې او ورځې تېروي.

### تبصره

د یادونې وړ ده چې د اسلام سیاسي حزب (حزب التحریر) غړي له ۱۹۹۰م څخه راپدېخوا (د اسلام کریموف د پاچاهۍ) په دوران کې بندي، تعذیب او شکنجه کېدل، د اسلام او د دعوت د حاملینو پر وړاندې د کریموف وحشي سیاست د لمر په څېر روښانه و. د ازبکستان پخوانی رژیم چې کریموف یې ولسمشر و د حزب التحریر د ځوانانو پر وړاندې ډېر ظالم و، دوی ته به یې د اوږده بند سزا ورکوله او په ډېرو بدو حالاتو کې به یې ساتل. هر وخت به یې د زندان د وخت له پوره کېدلو څخه وروسته د بند موده په جعلي ډول غځوله.

د میرضیایف د سلطنت په لومړیو کې نوموړي ځان په سیمه کې د یو اصلاح راوستونکي په توګه مطرح کاوه، د اطلاحاتو د اصطلاح تر نامه لاندې یې په کار شروع وکړه او نوموړي وویل چې هغه خلک چې په دیني برخه کې مجرم ګڼل شوي، باید خوشې شي. خو موږ وینو چې دغه نرمي لنډمهاله وه او هر هغه څوک چې له زندان څخه وروسته بیا هم د اسلام د حاکمولو لپاره کار کوي په تکراری ډول د نظام له خوا نیول کېږي.

نو له دې امله شوکت میرضیایف له خپل مربي کریموف څخه کم نه دی او د اسلام او اسلام ته د  دعوت کوونکو پروړاندې جنګ کې له کریموف سره توپیر نه لري.

اوسمهال د حزب التحریر په ځوانانو کې ډېر کم پیدا کېږي، چې هغه به د رژیم له خوا نه وي بندي شوی. د مثال په ډول په تېرو دریو کالونو کې په لسګونو تبلیغ کوونکي به چې له تبعید څخه وروسته د میرضیایف ژمنو ورکولو له امله راوګرځېدل، نو بیا به دوی د دین له امله د بېلا بېلو وختونو لپاره په زندانونو کې بندي کېدل.

د ازبکستان د اسلامي بیدارۍ د غړو پر وړاندې ډېر سرکوب کوونکي پلانونه لکه تعذیب، بندي کول او نورې جنايي قضیې دوام لري. د کریموف ځایناسي میرضیایوف په ژمنو باور یوه لویه ساده ګي ده. میرضیایوف هم په هېواد کې د سیاسي بیدارۍ سرکوبولو ته دوام ورکړ دی. سربېره پر دې د ازبکستان پر دولت، مسکو ډېره اغېزه لري. له اوسني رژیم څخه هېڅوک هم د دې تمه نه لري چې له اسلام او یا د اسلام له دعوت کوونکو څخه د ملاتړ وکړي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: عمر فارسي**

**۱۴۴۱ هـ.ق د ذوالقعدې ۲مه**

**۲۰۲۰ م  د جون ۲۳مه**